لیکنه : امیرگران

۰۹ مارچ ۲۰۲۱

## د مارچ ۸ د ښځو نړیواله ورځ :

د مارچ د میاشتي په ۸ مه نیټه هر کال " زماجسم زمااختیار " ( #MeToo ) یا " My body is my will " شعار په نړیواله کچه ورکول کیږي ، په پورتني شعار ځکه اصرار کیږي چي په ۲۰۰۸ م کال د ښځینه او نارینه وو د برابرو حقوقو ( Feminism ) طرفدارانو په ځینو هیوادو کي د ښځو په وړاندي د هر ډول استثمار ، ډله ایز جنسي تیري ، خشونت ، نسوانیت ته توهین او له هغوي څخه نفرت درلودل ( Misogyny ) په شدت څرګند او معلومیدل دغو غیرانساني اعمالو او وحشت ته په کتو د فیمینیسم طرفدارانو د ټولنیزو رسنیو لکه یوټیوب ، فیسبوک او داسي نورو له لیاري د ښځو د انساني حقوقو د احیا په خاطر همدا د ( #MeToo ) شعار ورکاوه چي اوس په ټوله نړۍ کي تکراریږي ، د مارچ اتمه نیټه په نړیواله کچه د ښځو د نړیوالي ورځي په حیث پیژندل سوي ، دا ورځ هرکال د نړۍ په ټولو هیوادو کي لمانځل کیږي ، د ښځو د نړیوالي ورځي تاریخي شالید ته که ځغلند نظر واچوو ، د لومړي ځل لپاره د ۱۸۷۵ م کال د مارچ اتـمه د امریکا د نیویارک د نساجي صنعت یو شمیر ښځو د خپلو معاشونو ، کاري ساعتونو او نورو صنفي حقوقو د برابروالي او اعادي لپاره په مظاهرو او اعتصاب لاس پوري کړ ، که څه هم دغه عادلانه او مسالمت امیز پاڅون د زورزیاتي او تشدد په وسیله وټکول سو ، ولي د نړۍ عمومي افکار د ښځو د وضعیت او د هغوي حقوقو ته د پاملـرني وړ وګرځید ، دویمه پیښه بیا هم په نیویارک کي د کتان د فابریکي د کارګرانو د اعتصاب په پایله کي رامنځ ته شوه چي د فابریکي مالک او ساتونکي ګارد اعتصاب کوونکي ښـځـي په فابریکه کي را ایساري کړي وروسته فابریکي اور واخیست چي له امله ئي ۱۲۹ تنو ښځو خپل ځانونه له لاسه ورکړل ، بیا د لومړي ځل لپاره په کال ۱۹۱۱ م کي ډنمارک ، جرمني ، اطریش ، سویس او امریکا د ښځو نړیواله ورځ ولمانځله ، خو په ۱۹۱۲ م کال د مارچ اتـمه نیټه د کمونیستي ښځو په دویم کنفرانس کي د ښځو د نړیوالي ورځي په نوم ثبت شوه او هرکال لمانځل کیږي ،

د تاریخ په اوږدو کي له ښځو سره زورزیاتي او ظلم اوږد داستان لري ، په نړۍ کي به داسي ځاي نه وي ، چي ښځي د تاریخ د ځوروني ، ظلم او وحشت له کرغیرنو کړو او اعمالو څخه خوندي پاتي سوي وي ، په عهدعتیق کي په جنوبي امریکا کي به یوه قوم د ځمکني او اسماني افتونو او حوادثو د مخنیوي په منظور دهغه تېر تر ټولو ښکلي نجلۍ د خدایانو د مجسمي له مخي قرباني کوله ، په مصر کي به ئي هم ښکلي نجلۍ اول سینګارولـه بیا به ئي د رب النوع د خوښحالي لپاره د نـیل رود ته ورغورځوله ، په هند کي ښځي حق نه درلود چي له خپل میره څخه زیات

ژوند وکړي ، میره به ئي چي په هر عمر مړ کیده ښځه به ئي هم ژوندي په اور کي سوځوله ، دسکهانو د طایفي مشر رنجیت سنگهـ چي مړ سو د هغه د څلورو ځوانو ښځو لاسونه او پښي ئي ور وتړلي او د خلکو په مخکي په اور کي واچولي ، وحشي عربو به د لورانو تولد د بدبختی او غم سره تړاو ورکاوه ، زموږ په هیواد افغانستان کي به ښځو ته د مال ، حیوان او یا د یوه شي یا د کور د ابزار په څير کتل کیدل ، دخپلي میرمني په نوم ایستلو شرمیږي او هغي ته د "د فلاني مور ، کهول ، کوچ ، ضعیفه او داسي نور د حقارت نومونه " استعمالوي ، د ژوند د ملگري په انتخاب کي پیغلو ته دخپلي خوښي حق نه شته ، ښځو به حق نه درلود چي عاشقي سي ، رابعه بلخي چي په بکتاش عاشقه وه د ورور لخوا ووژله شوه ، د ناهید ، فرخنده ، رخسانه او په سلهاوو نوري پیغلي او ښځېنه د بنسټپالو او جهادي ارتجاع د بي عدالتئ اوظلم په اور کي وسوځیدي ، د ښځو پر وړاندي خراب او غیرانساني چاپیریال ته په کتو د نسوان طبقه له تدریجي مړيني څخه د خلاصون لپاره ځان سوځنه غوره گڼي په پاي کي د ښځو د نړیوالي ورځي په ویاړ د افغانستان او نړئ ټولو مبارزو او مظلومو ښځو ته مبارکي وایم او د بنسټپالواو زورواکانو په ضد د افغانستان او نړئ د ښځو د بریاوو په هیله ، امیرگران .